[Afghanistan Digital Library](http://afghanistandl.nyu.edu/)

adl0027

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# نظامنامه

# د محصول د مال مواشي

په (۲۰) د سرطان سنه ۱۳۰۶ هجري شمسي

په مطبعه د «شرکت رفیق» په ماشین د کابل کښی چاپ شویدی

قیمت د یو جلد (۱۴) پول

شمار د چاپ ......................... (۱۵۰۰)

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامهٔ د محصول مال مواشی

## مقدمه

هر کله چه په افغانستان کښې محصول د مواشي
راز راز په ډیرو قسمونو سره آخستل کېده،
مثلاً محصول د زکوٰة، طرق، علفچر، باج سیخ،
شاهیکی، تکت د زکوٰة، سر رمه‌گی، سرگله‌ئی،
غوړی، معمول کرت، سرکانه، چکانه
سره له دی محصولاتو نورې تکالیف هم
لکه حواله د خریداری د جوال، تغر، خل، نواره، وړي

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 4 of 24



رلیشمه، توبره، باسلیق، آش، اوبش، خرڅه
دولت په کار درلودل، په زکوة او د رعیتو په مال
باندی سرېزش کیدل او قراره سرېزش اخستل
کیدل، او هم هغه محصولونه چه لپاره د
مواشی ایښودلی شوی وه، په یو قوم په یو قرار
سره، په بل قوم په بل قرار سره کم او زیاد محصول
مقرر وه، بعضی خدا ناترسه حاکمان او کارداران بلکه
شخصی نوکران د دوی چه له یو ځای نه بل ځای ته
به تلل، خپل خرڅونه به ئی په نوم د سورسات،
بارګیر او سورلی خپله به ئی په نوم د (الُو) رعیتو
نه اخستل، او لپاره د هری وجهی ځانته عامل
او ضابط، او لپاره د ټولول او حاصلولو د هغو محصلین ډیر
مقرریدل، دا قاعدی سبب د تکلیفونو او زحمتونو
د مالدارانو کیدلی.

لپاره د دی خبری بنا پر آسوده حالی د صا

رعیتو د شاهانه شما هغه ټول تکلیفونه او
زحمتونه ورك كړل، یو محصول په نوم د محصول
د مواشي سره په ټولو مالدارانو د افغانستان باندې
بې له استثنا او دیتلو د قومیت او شخصیت څخه
کېښوده، تو څو چه سم له دی نظامنامې سره
له کوردو مالدارانو نه په تمام ملك د افغانستان
کښې هغه محصول په قسم د مساوات سره برابر واخسته شی،
چه هیڅ یو له هغه محصوله څخه له قلمه وته شی او بل
هغه څوك چه یو مال مواشي ولري هم مالدار
باله شی او محصول یې ورکړي، او محصول د
مال مواشي له نراو ښځې، له وړو او غټو د څارپایو
بې له استثنا یو برابر اخسته کېږی.
(۱):- ټول د محصول د څارپایو چه قرارداد په لاسو
یو پایه لسودوه، عهدهٔ داران یا قریه داران
یا قبیله داران به بې له شماره څخه د دفتر د پادشاهي

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 6 of 24



نه قبولداره کیدل، له رعیتیو څخه یه ئې جبراً
یه زور سره بې له شماره زیاد له حقل اړیه
اخستل، موقوف کړه شول، چه پس له دی
بې له قاعده دی نظامنامې محصول وانه خست
شی .

(۲):- هغه هیئتونه چه لپاره د شمار د مال مواشی
مقرریږی ، له دی کسانو څخه چه لاندی
بیانیږی ، جوړیږی .

(الف):- یه علاقه داریو او حکومتیو کښ، تر
اولی درجی خپله علاقه دار او د هغه
ځای حاکم، سره له یو کس وکیل
منتخبه د مجلس مشوره د هغه، او
کاتب د مالئ او له دوه تر څلور کسو
پوری سپین ږیری له استیلکو د
قرئ څخه .

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 7 of 24



(ب):- په مرکزو د لويو او اعلی حکومتيو
او نائب الحکومکيو کښ، د لويو او اعلی
حاکمانو او نائب الحکومکانو له خوا،
سرکاتب د مکتوب نويسی د دوو
او دووټنه منتخبه وکيلانو د هغه،
او سرکاتب د جمع وخرچ د مرکزی،
او له دوه تر څلورو کسو پوری
سپين بيری د قرلی.

(۳):- وقت د شمار د چارپايانو له اوله دحوت نه
تر آخره د اسد پوری په مناسبت د وقت د
لنکوال د هغه ځای سره مقرر شه، چه پس
له لنکيدلو د چارپايانو څخه په شمار باندی
شروع، او تر آخره د اسد د پوری بايد پوره
کامل شی.

(٤):- هيئت د شمار هرې قرئی او قبيلی ته به

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 8 of 24



دڅی چارپایان به شمیری، کاتب د شمار به فی الفوره تمم او حساب د چارپایانو او مقرری محصول د هر سړی به له جزو سره په کتاب د انوانتر خصوصی کښی داخلوی په آخر د هری ورځ کښی به ئی میزان کوی، او مبلغ د محصول به په فارسی عبارت سره لیکی، هیئتونه د شمارمه په هغه کتاب د انوانتر کښی امضا او دستخط کوی.

(٥): لپاره د داخلولو د محصولونو د مواشی دوه تورته ئی تکموته هیئتونو د شمارخنه موجود دی، اوّله تورته به رئیس د هیئت د شمارسره له کاتبانو د مالیئ متعلقه د هغه امضا کوی. په مخ د هیئت کښی محصول ورکونکو اسامیوته ور کوله کیږی، وجهه د محصول نقلاه آخستی د هغه مال مواشی

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 9 of 24



کاتبانو ته سپارله کیږی.

دویمه توټه، چه د اوّلی توټی ثبت او شیرازه د کتاب پوری تړلی دی رئیس د هیئت برے سره له نورو اعضا په اتفاق سره امضا کوی.

(۶):- که رئیس د هیئت د شمار، او کاتب چه ماموړ د تحویلی د وجهی دی، محصول ئې نقل نده وے اخستی، نسیه او پورئې پریښی وی، له ماموریته څخه طرد او تعزیر کیږی، او که د او وجهه د محصول له نه اخستلو د مال څخه حصول نه شے تلف شوی مبلغ له رئیس د هیئت او کاتب د مامور د تحویلی د شمار څخه په قرار د ریزش د تنخواه د دوی سره آخستلی او د حکومت په خزینه کښ تحویلاوه شی.

(۷):- مال مواشی چه په هر کال کښ شمیرل،

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 10 of 24

او محصول د دولت له مالدار سړي څخه
اخستل کېږي، هر کله چه هغه
مال مواشي چه محصول پرې کېږي،
په منځ د کال کښې سقط یا ورک شي مجرائي
نه ورکوله کېږي، البته په راتلونکي کال کښې
په نوي شمار کېږي.

که مالدار سړی، خپل مال مواشي چه په
حساب پنځوس سره مال وي، یا زیاد له پنځوس
سره څخه وي په هغه کال کښې ئې په بل سړي
باندې خرڅ کړي لازم او ضرور دي،
چه سره له خریدار سړي د هغه ځای ماموریت
خپل ته ورشي، د هغه ځای له ماموریت
څخه، هغه خرڅ شوي مال مواشي د دفتر
د حساب، او د مال شمارۍ د ټکټ له مخې
د پخواني مالدار له جمع څخه وضع، او خریدار ته

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 11 of 24

ټکټ ورکړشی ، په ملاحظات د دفتر خپل کښې

بېرته لیکی .

په موجب د دی ټکټ د مال مواشی ، چه پښتانی

مالداره دهغه په هغه کال کښې محصول ورکړیدے

خریدارو له نور محصول د مواشی د دی کال تخته

معاف دی .

(۸):- محصولونه د مال مواشی له رعیتیو د دولت

تخته په دی قرار آخستل کیږی ، چه

لاندی بیانیږی :-

اوښ ، اوښه هریو دری افغانی ...— ۷۰ پول

آس ، آسپه ، کچر ، کچره هریو یوه افغانی ...—۸۰ پول

غوا ، غوایی ، سنډه ، میښه هریو — ۹۰ پول

خر ، خره هریو ———— ۹۰ پول

پسه ، میږه ، وز ، وزه ؛ هریو ... — ۲۵ پول

(۹):- په حساب د چارپایانو د مالدارانو کښې چه

په حضور د هیئتونو د شمار شمیرل کیږی
هر کله چه تفاوت ظاهر شی، له څښتنو
د مال څخه سیاستاً یو په دوه محصول د هغو
مالونو چه خیانت او چشم پوشی په کښی شویدی
اخستل کیږی، او هیئتونه د شمار سیستم له
(۲۳۳) قاعدی د نظامنامی د جزای عمومی
سره جزا ور کوله کیږی .

(۱۰):- هغه مالداران چه مال مواشی خپل په دوه تت
د شمار کښی پټ او شمیرلو ته ئی حاضر نکړی
یا هیئتونه د شمار په محصول د مال مواشی د
هغو کښی چشم پوشی وکړی، هغه څوک
چه هیئتونو د شمار ته د دی پټولو، یا په صورة
د خیانت د هیئتونو د شمار کښی مافوق آمرانو
د دی نه خبر ونکړی - مال مواشی له
څښتنو څخه چه په مال د دی کښی تفاوت آ

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 13 of 24



خیانت شوی دی سیاستاً یو پر دوه
محصول آخسته کیږی، نیمائی پر شان د
مت
انعام ورکوونکی ته، او نیمائی خزانه د حکومت
ته تحویلیږی، او هیئتونو د شمارتنې سیمه له
سلطانی
(۲۳۳) قاعدی د نظامنامی د جزای عمومی
سره جزا ورکوله کیږی.

(۱۱):- که محصولونه د مال مواشی د سمی کال
نسبت و محصولونو ته د تیرو کلونو کښی
او کمبود وکړی، هیئتونه د شمار به
تحقیق کوی، که دا کمبود نتیجه د یو عمومی
آفت دی، لکه تلف کیدل د چارپایانو
او نور آسمانی سببونه، هیئتونه د شمار به
نتیجه د تحقیق خپل، سره له موجبه سببونو د
کسر بیلی بیلی مافوق آمر خپل ته خبر ورکوی
او که دا کسر و نقصان یو عام موجبه سبب نه لری

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 14 of 24



هیئت د شمار د علاقه داریو، لویو حکومتیونو،
او هغه هیئتونه د شمار چه له اوّلی، او دوهمی،
او دریمی درجې حکومتیونه څخه مقرّر وی، ولایتو او اعلی
حکومتیونو، همداسی رنګه هغه هیئتونه چه د لویو حکومتیونو له خوا
مقرریږی ولایتو او اعلی حکومتیو ته خبر ورکوی،
مافوق آمران د دوی به پس له کتلو د کښی
د محصول، په هغه صورت کښی چه کسوله
لسی برخی د محصول د تیر کال له څخه اضافه
وی، یو هیئت تفتیشیه به د پلټنی لپاره
مقرّره وی، دا هیئت به، په پلټنه باندی
شروع کوی، نتیجه به هغه ځای ته چه
له هغه ځایه مقرّر شوی دی وړاندی
کوی، هغه هیئتونه د شمار د علاقه دارو
چه تحصیله په سر سوه ولایتو او اعلی حکومتو
پوری تړلی دی نتیجه د شمار خپل په جمله

دشهریه حسابونو خپلو کښ په هغه قرار
سره چه په عنوان د دی مادی کښ ښکاره شوی
دی په شان سره به ئی ولایت او اعلی حکومت
خپل ته خبر ورکوی.

(۱۲)؛ که جمع د محصول د مال مواشی، نسبت و
تیرو کالونو ته ډیر کسر او کمبود
وکړی، وزارت مالیه په چاره کولو
د هغه سره مجبور دی.

(۱۳)؛ حوالی د خل جوال، وړی، پسه، آس، خر، بارے
د معمولی غوړیو، کوټ، تغره نوار، سنی، رشته
توبره یا سلیق، اوبښ، خر، او نور شیان موقوف
دی، دولت هغه شیان چه ئی پکار دی، به
خوښه او رضا په نرخ د هغی ورځی خپلداری کی
هیچانه اجازه نشته چه په حوالو سره څه شی
داخلی یائی په جبر او زور سره خپلداری کی

او که ئې په حواله یا په خریداری د وزو سره
آخستې وه او ښکاره شه په قوار د نظامنامه
د جزا سره سزا وینی .

(۱۴) — هیئتونه د شمار، حسابونه خپل به له جزو سره
میاشت په میاشت هغې اداری ته چه ورتوے
تړلې دی، لیږی رسید به اخلی، وجه د محصولونو
به په لسمه او شلمه او آخر د میاشتې، پوره په
خزانه کښې تحویلوی، رسید د اخلی، او که په دے
ددغو کښې ددغې عمومی رخصتی پیښی شی، یوه
ورځ وړمبی له هغه نه به ئې خزانه کښې تحویلوے
که مامور د تحویلی د هغه وجهه د محصولاتو ئې
سم له حکمه د دی سره په خزانه کښې نه وی
تحویل کړی له مامورینه څخه معزولیږے

(۱۵) — هغه شاں چه خریداری د هغو په وقت د جنګ
کښې ضرور دی وی په موجب د دستخطی فرمان د

پادشاهي به قرار د نرخ روزنۍ جنساً دولت آخلي، او قيمت د هغه په وقت د حساب کښې مجرا ور کوي.

(۱۶):- مال مواشي د هر ځای، په همغه ځای کښې پر حضور د هيئتونو د شمار شمېرل او آخستل. د محصول د هغه نقل کېږي، او که بعضې کډن ري مالداو په بل ځای کښې مال د ده حساب شوی وي او رسيد د محصول ئې آخستی وي، او بل ځای ته خو ځيدل او کر ځيدل کوي، په دې سړي باندې نور هيڅ تکليف نشته همغه سند چه په امضا د هيئتونو د شمارئې آخستی دئې ليده او قانوني سند شمېره کېږي.

(۱۷):- که بعضې رمه داوچه شمار د دې د ده له نخو سه ده څخه زياد وي، به يو کال يو ځای کښې

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 18 of 24



سیاهر دمواشی د هغو داغلی وی، او یه
راتلونکی کلوکښې، بل ښای ته خیال د
دائمی تللو لری باید چه مدیر د مالیئ خیلته
د خبر وورکړی او خط د داخلی.

(١٨):- هغه مالدار چه دائی بل ښای ته ورشی، خط
د مدیر د مالیئ د پخوانی ښای خیل د، مدیر
د مالیئ د هغه ښای ته چه نوی ورغلی
دی، ور ورسوی.

(١٩):- هر مالدار چه له یو ښای نه بل ښای ته یه
طور د دائمی سره ځی، لازم چه مدیر مالیئ
پخوانی ښای خیلته د خبر ور کړی، تر څو چه مدیر د مالیئ
د پخوانی ښای د د ه، مدیر د مالیئ د هغه
ښای ته چه هوس ورشی اطلاع ورکړی چه باخبر دی.

(٢٠):- هر مالدار چه له مدیر د مالیئ خیل څخه خط
د تللو د بل ښای خیل آخلی، کله مدیر د

مالئی خیل ځخه خط د تللو دپل ځای خپل آخلی

که مدیر د مالئی د نوی ځای خپل ته ئی ونه

رسوئی، یا په منځ د لاره کښی ځان پټ کړی،

پس له ښیولو او تحقیق ځخه، محصول د مواشی

د هغه یو په دری آخسته کیږی.

(۲۱):- په خصوص د (اُلَو) کښی چه کاردارانو به

په منځ د لاره کښی به زور سره آخستل

بالکل موقوف شو فقط په هغه وقت کښی

که کم لوی کار چه په هغه کښی عمومی

نائله وی پیښ شی، په موجب د دستخطی فرمان

د اعلیحضرت همایونی به حواله او اجرا

کیږی.

(۲۲):- هغه کسان چه محصول د سرخانه ئی او

اصنافی او آسیابی او کانړی (جواز) دولت

نه ورکوی، هیڅ تونه د شماریه سره

http://hdl.handle.net/2333.1/h44j0zv7 Image 20 of 24



(۲) مادی دِ دی نظامنامی سره محصول آخلی سُم

(۱٤) قاعدی د دی نظامنامی حسابونه د هغو

به سره له جزو ماهواری خپلی مربوطه اداري

ته لیږی ،

(۲۳):- محصول د سرخانه ئی او آسیابی او اضافی

او ګانړی د هر ځای ، په وقت د شمار دی

قانون کښ د حساب ، او په قرار د مقرّری

بست د هغه ځای نقل آخست کیږی ،

او که منځ د کال کښ تغیر او تبدیل

پیدا کړی ، مجری ، نه وړ کوله کیږی

او لپاره د نوی کال شمار د تیر کال ، بست

نه کانه شی ، او په وقت د شمار کښ

نوی شمار کیږی .

(۲٤):- هغه کسان چه له یو ځای نه بل ځای

ته په قسم د دائی سره ځی ، چه په

خای کښې چه ورغلي دي سرخانه ئې مقرري لري هم لهٔ

بستر د مقرري د همغه خای چه نوي ورځي محصول له

سرخانه ئې له دوي څخه آخست کیږي، او که همغه خای سے

چه ورغلي محصول د سرخانه ئې مقرره وي لږ وي که لو

د محصول د سرخانه ئې څخه معاف دي .

(۲۵) :- له نورو قره تلي ورديو څخه چه لپاره د پوستکي

وژل کیږي، محصول د مال مواشي

نه آخست کیږي معاف دي .

(۲۶) :- د دفتري د محال یا مدیرد مالیي سره له همغو

مادو سره چه په دې نظامنامه کښې روښانه

. بیان شوي دي غیر له (۱۳) او (۱۵) او (۲۰)

او (۲۱) قاعدي چه مخصوص د مال مواشي

دي، په باب د شمار د سرخانه ئې او اصناف

او آسیابي او ګانړي د مراعات او

اجرا کیږي .

(۲۷):- هر کله چه زکوٰة شرعی کاودی بناپر دا هغه
مالداران چه زکوٰة پری واجب وی په رسولو
د هغه د کوشش او ډیر احتیاط کړی.

(۲۸):- په داخلول او اجرا کولو د دی نظامنامی
سره په نظامنامو د دولت کښی امر او اراده
کوم

(۲۹):- حکمونه د مادو د پخوانی نظامنامی د
محصول مواشی او په هغو باندی کار
او عمل کول پس له وقته د خورکیدلو
د دی نظامنامی څخه متروک او منسوخ
دی. (۲۰) ثور سنه ۱۳۰۶.

مالئی خپل
که مدیر د
رسونی، ی
پس له نیو
د هغه یو
(۲۱):- په خصو
په منځ د
بالکل مو
کړه ک
نائع وی
د اعلحض
کیږ
(۲۲):- هغه کسا
اصنافی
نه ور